



د مولانا سعيد افغاني : آزاده ، ټولنيزه ،علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست!



**انجينر محب الرحمن « خطيبي »**

د نشرنيټه : 30 مى 2017 م

# زما دزړه چيغه

دا وطن !!!
دا وطن كور د ژړا دى
دلته ژوند ډير بې بها دى
خوښي پته ده داريږي
ځکه غم دلته پاچا دى
صفتونه دي د جنګ فتواګاني د وژلو
واعظونه دي بل رنګ دعاګانى د وژلو
دلته هر چيري ملا دى
دا وطن كور د ژړا دى
رحم تللى كوچ يى كړى دلته ظلم زغمل كيږي
د وژلو سوچ يې كړى بې ګناه به وژل كيږي
د مظلوم وژل روا دى
دا وطن كور د ژړا دى
دلته ژوند ډير بې بها دى
خوښي پته ده داريږي
ځکه غم دلته پاچا دى
***
محب الرحمن « خطيبي »

بازګشت به صفحه اصلی www.said-afghani.org